يو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د ځینو کارونو په اړه يې ورسره خبرې وکړې، نو ويې ويل: هغه څه کيږي چې الله ئې وغواړي او ته يې وغواړې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «آيا زه دې له الله جل جلاله سره برابر وګڼلم؟ ووايه: هغه کيږي چې يوازې الله يې وغواړي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: يو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د ځينو کارونو په اړه يې ورسره خبرې وکړې، نو ويې ويل: هغه څه کيږي چې الله ئې وغواړي او ته يې وغواړې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «آيا زه دې له الله جل جلاله سره برابر وګڼلم؟ ووايه: هغه کيږي چې يوازې الله يې وغواړي».

[سند يې حسن دی] [النسائي په الکبری کې او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

يو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی نو په ځينو کارونو کې يې ورسره خبرې وکړې بيا يې ورته وويل:"ما شاء الله وشئت"، يعنې څه چې الله وغواړي او ته يې وغواړې"، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم يې دا وينا وغندله او خبر يې کړ چې د الله تعالی له خوښې سره د بنده د خوښې يادونه کوچنی شرک دی، مسلمان ته روا ندي چې دا ډول وينا وکړي، بيا يې دې حقې وينا ته د هغه لارښوونه وکړه چې ووايي "ما شاء الله وحده"، يعنې هغه کار کيږي چې يوازې الله يې وغواړي، نو الله جل جلاله ته په اراده کې يوازې والی ثابتوي او په هيڅ ډول ورسره بل شی نه يو ځای کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5928